# په اسلامي فقه کې د فوتوګرافيک انځور حکم

**پوهنيار ابراهيم نوري**[۱]**، پوهنيار احمد غيور يوسفزی** [۲]

[۱،۲] اسلامي ثقافت ډيپارټمنټ، ښوونې او روزنې پوهنځی، لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه.

برېښناليک: Ibrahimnoori571@gmail.com

**لنډيز**

دغه موضوع د انځور په پېژندنه، ډولونو او په اسلامي شريعت کې د فوتوګرافيک انځور په احکامو باندې څرخيږي، په موضوع کې مو د معاصرو فقهاؤ اقوال راټول او واضح کړي دي. د موضوع موخه د فوتوګرافيک انځور پوره پېژندنه، په اخېستلو کې يې د فقهاؤ نظرونه او د فوتوګرافيک انځور ډولونه معرفي شوي او په اړه يې حکم راوړل شوې دی. د موضوع تګلاره استقرايي ده. د څېړنې پايلو ښودلې چې: هر هغه انځور چې اوږدوالی، سور او ژوروالي ولري او يوه تشه ډکه کړي، ليدل او لمس يې هم کيدای شي يواځې روح پکې شتون ونه لري د مجسم انځور په نوم ياديږي. په ديوال او لوحو د شيانو او اشخاصو په قلم او يا بل څه د شکلونو نقاشي کول د لاسي انځور څخه عبارت دی. اتوماتيک انځور چې فوتوګرافيک، سينمايي او ټلويزيوني انځورونوپکې شامل دي د کيمرې او برېښنايي څپو په واسطه اخيستل کېږي او خلکو ته ښکاره کېږي. د راجح قول پر بنياد نيمه فوتوګرافيک، پوره کوچني فوتوګرافيک او پوره فوتوګرافيک انځور جوړول له اړتيا او مصلحت پرته ناروا دی.

**کليدي کليمې**: اسلامي فقه، انځور، فوتوګرافيک.

**سريزه**

اسلام يو جامع، شامل او کامل دين دی چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره ټاکلی دی. د بشري ژوند ټولو اړخونو ته روښانه مدلل او د فهم وړ احکام لري چې انسانان کولای شي د هغه په رڼا کې د خپل ژوند ټولې چارې تنظيم او خپلو ټولو پوښتنو ته پکې ځواب پيدا کړي. دا يوه واضحه خبره ده چې زموږ دين کامل دی ټول احکام په نصوصو کې په اجمالي توګه بيان شوي دي، په نننۍ پېر کې ځينې داسې معاصرې پېښې شتون لري چې اړوند احکام يې بيان او تفسير ته اړتيا لري؛ نو په دغه مقاله کې به د فوتوګرافيک انځور اړوند احکامو څېړنه کوو. په عمومي توګه د انځور په اړه قرآن او احاديثو کې نصوص موجود دي؛ خو د فوتوګرافيک انځور په تړاو فقهاء د شريعت د کلي مقاصدو په رڼا کې ځينې نظرونه لري، هڅه به وکړو ترڅو ياد نظرونه تر بحث او څېړنې لاندې ونيسو.

انځور اخېستل او کارول يو له هغو مسائلو څخه دی چې زموږ ټولنه کې يې په اړه ډېرې پوښتنې راولاړيږي، په ځانګړې توګه په ننې پېر کې د فوتوګرافيک انځور اخيستل او د هغو کارونه له حده زيات مروج دي، که څه هم په ټوليزه توګه د انځور په تړاو شرعي نصوص شتون لري خو دا چې انځورونه

بېلابېل ډولونه لري او ځيني ډولونو ته يې په نني عصر کې ډېره اړتيا لېدل کېږي او ډېر مصالح پرې مرتب دي، يو له دغو انځورونو څخه فوتوګرافيک انځور دی. چې فقهاء کرام يې د حکم په اړه بېلا بېل نظرونه لري چې خلکو ته پدې ټړاو واضح معلومات او حکم نه دی وړاندې شوې. نو دغه څېړنه به تر ډېره بريده د خلکو دغه پوښتنې ځواب کړي. ياده موضوع يو له هغو موضوعاتو څخه ده چې د اسلامي عقيدې سره کلك ټړاو لري او هغه داسې چې ځيني انځورونه د انسان د ګمراهی او شرک کې د واقع کېدو سبب ګرځي؛ نو اړينه ده چې د انځور په اړه يو څه بيان کړې شي. همدارنګه د فوتوګرافيک انځور څېړنه او د احکامو بيانول ځکه اړين دي چې زموږ د ټولنې ټولې برخې دا ډول انځورونه په زياته کچه کاروي او پدې اړه ډېرې پوښتنې خلکو ته پيدا کېږي. نو دا چې ياده موضوع له معاصرو موضوعاتو څخه ده چې د متقدمينو علماؤ په زمانه کې شتون نه درلود او د معاصرو علماؤ نظرونه هم پکې په کمه اندازه شتون لري، بناء د يادې موضوع څېړل اړين برېښي.

د ډېرې پلټنې څخه وروسته جوته شوه چې ياده موضوع باندې په ملي ژبو کې کومه څېړنه نه ده ترسره شوې؛ خو په عربي ژبه کې وليد بن راشد السعيدان (حکم التصوير الفوتوغرافي) لېکنه ده او محمد بن أحمد بن علي واصلی ماستری تيزس(أحکام التصوير في الفقه الاسلامي) دی او وفاء ابو الوفاء(تعلم التصوير الفوتواغرفي) کتاب دی. لومړی ليکنه يواځې په فوتوګرافيک انځور مشتمله ده، دوېمه ليکنه کې په عمومي ډول انځورونو ته اشاره شوې ده او فوتوګرافيک انځور يوه برخه ده، او درېمه ليکنه هم د فوتوګرافيک انځور يوه برخه رانغاړي، د دې ترڅنګ ذکر شوي لېکنې ټول په عربي ژبه باندې دي زموږ د ټولنې وګړي ترې استفاده نه شي کولای، زموږ د لېکنې لوی توپير به دې سره دا وي چې دغه لېکنه به د ملي ژبې ترڅنګ د فوتوګرافيک انځور ټول ډولونه بيانوي ترڅو لوستونکو ته يې مطالعه اسانه او د ټولنې ستونزه پرې حل شي.

د څېړنې عمومي موخې:

خلکو ته د فوتوګرافيک انځورونو د اخيستلو په اړه شرعي حکم بيانول.

لوستونکو ته د فوتوګرافيک انځور پېژندنه.

د فوتوګرافيک انځور د ډولونو او حکم بيانول.

د څېړنې فرعي موخې:

د پوره فوتوګرافيک انځور حکم.

نيمه او کوچني فوتوګرافيک انځور حکم.

د سينما په پرده د خوځنده انځور حکم.

د څېړنې پوښتنې:

په دغه مقاله کې د پورتنيو موخو ترلاسه کولو لپاره لاندې پوښتنې طرحه شوي دي:

۱- انځور ته څه ويل کېږي او کوم ډولونه لري؟

۲- فوتوګرافيک انځور د جوړولو او کارولو حکم څه دی؟

**مواد او کړنلاره**

څېړنه د موخو له پلوه بنیادي ده او د اطلاعاتو او معلوماتو له مخې په کیفي توګه د کتابونو، باوري مجلو او نړیوالو نویو مقالو څخه ګټه اخیستل شوې ده. په دې څېړنه کې لومړی د فقهي موضوعاتو په هکله معاصرې، نوې او باوري سرچینې وپېژندل شوې، وروسته د استقرایي مېتود په واسطه له منابعو څخه د موضوع اړوند مواد را ټول شول؛ ترڅو موضوع په هر اړخیزه توګه وڅېړل شي.

**لومړی مطلب: د تصویر (انځور) پیژندنه**

**د تصویر لغوي معنا:** (صور) په لغت کې د صورة او تصاویر یې جمع ده(لسان العرب لابن منظور، ۲/ ۴۹۲)، د (ص) کلیمې په زیر او پیښن باندې یې استعمال شوې دی. په لغت کې شکل، خط او رسم ته ویل کیږي (القاموس المحیط، للفیروزآبادي، ص ۵۴۸). ابن فارس ویلي دي:(صاد، واو، راء) هغه کلیمات دي چې اصول یې مختلف دي. دغه باب د قیاس او اشتقاق څخه نه دی، او پدې باندې پرته د (صّور، یُصّور) بل څه نه قیاس کېږي. د دې نه پرته دغه کلیمه پخپل ځان سره منفرده ذکر کیږي (معجم مقاییس اللغة، لابن فارس، ۳/ ۳۱۹). له دغه کلیماتو څخه چې پخپل ځان سره مفرده ذکر کېږي د (صُورة) لفظ دی چې مراد ترې د هر مخلوق شکل او هیئت دی کوم چې الله تعالی پیدا کړې وي (معجم مقاییس اللغة، لابن فارس، ۳/ ۳۱۹). همدارنګه د تصویر کلیمې اطلاق په تخطیط او شکل باندې شوې دی (القاموس المحیط، للفیروزآبادي، ص ۲۴۸). ویل شوي دي چې(صَوّره) یعنې کله چې د یو شي صورت، شکل او معین نقش جوړ کړی شي. دغه اطلاق په هغو انځورونو چې جسم لري او که یې نه لري کېږي، نو په هر یو باندې د لغت استعمال له وجې صورة اطلاق کیدای شي(معجم لغة الفقهاء ص ۲۷۸)؛ نو تصویر په لغت کې: د انځور جوړولو ته وایي که جسم لري او که (سطحه).

لغوي اطلاق د (صُورة) کلیمې ډېر دی خو مهم یې لاندې بیانوم:

**لومړی:** د یو شي په حقیقت او هیئت باندې یې اطلاق کېږي، ویل شوي دي چې(صورةُ الأمر کذا و کذا): یعنې د یو شي حقیقت او هیئت داسې داسې دی(لسان العرب، لابن منظور، ۲/ ۴۹۲).

**دویم:** د (صُورة) لفظ اطلاق د یو شي په صفت باندې شوې دی، ویل شوي دي چې(صورتُ لفلانٍ الأمر)، یعنې ما د یو کس د یو شي صفت وکړ(لسان العرب، لابن منظور، ۲/ ۴۹۲).

**دریم**: د (صورة) لفظ اطلاق د یو شي په ډول او نوعه باندې شوې دی، ویل شوي دي چې(هذة المسألةُ علی ثلاث صُور): یعنې دغه مسئله په درې ډوله ده(معجم لغة الفقهاء ص ۲۷۸).

**څلورم**: د دې لفظ اطلاق په هغه څه کېږي چې په ذهن او عقل کې رسم کېږي، ویل شوي دي(صُور الشي) کله چې یو شي انځور په خیال، ذهن او عقل کې رسم شي او په خارج کې ظاهري وجود شتون ونه لري(لسان العرب، لابن منظور، ۲/ ۴۹۲).

**پنځم**: د دې لفظ اطلاق په مخ باندې هم شوې دی، ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی(أَنَّهُ کَرِهَ أَنْ تُعْلَمَ الصُّورَةُ)( صحیح البخاري، ګڼه: 5115) یعنې د مکروه ګڼل چې په مخ کې نښه او یا داغ ولګول شي.

**شپږم**: د دې لفظ اطلاق په هر هغه څه هم کېږي چې د خپل اصل څخه اخېستل شوې وي او په پوره توگه د خپل اصل سره مطابقت ولري لکه: د انسان، حیوان او بې روحه شیانو انځورونه(معجم لغة الفقهاء ص ۲۷۸).

## د انځور اصطلاحي پېژندنه

د انځور گڼ اصطلاحي تعریفونه شوي دي چې په لاندې ډول یې بیانوم:

**لومړی**: مجسم انځور: هر هغه انځور چې اوږدوالی، سور او ژوروالی ولري(التعریفات للجرجاني، ٦٥). داسې جسم درلودونکی وي چې اندامونه یې ښکاره او یوه تشه ډکوي(مفردات الفاظ القران، للاصفهاني، ص ١٩٦)، لیدل او لمس یې هم کیدای شي، یواځې روح پکې شتون نه لري، داسې انځورونه د اوسپنې، لرگي، تیږې او مسو څخه جوړ شوي وي لمس او محسوس کیدای هم شي.

**دویم:** لاسي انځور: هر هغه انځور چې خلك یې په فني ډول په لاس باندې جوړوي او مختلف ډول رنگونه ورکوي. جسم او سوری نه لري، لیدل کېږي خو لمس کیدای نه شي؛ ځکه ښکاره اندامونه نه لري او یوه تشه نه ډکوي. د لاسي انځور بل تعریف داسې هم شوې دی: په قلم او یا بل څه په واسطه په دیوال یا لوحو د شیانو او اشخاصو د شکلونو نقاشي کول دي(المعجم الوسیط ص ٥٢٨).

**دریم**: د رڼا انځور(فوتوگرافیك انځور): دا هغه انځور دی چې رڼا په یو شي غورځوي، بیا بلې شیشې ته چې په شا کې موقعیت لري رسیږي تر دې چې د کیمیاوي اغیزه او تغییر پواسطه ترې انځور جوړیږي(التصویر و الحیاة، د/ محمد نبهان سویلم، ص ٨٧).

## دویم مطلب: د انځور ډولونه

انځور لاندې ډولونه لري:

**لومړی ډول:** جسم لرونکی انځور: د دې څخه مراد هره مجسمه یا انځور چې یو جلا بدن، د پام وړ اندازه او د تنفس غړي ولري(التعریفات للجرجاني/ ١٧٧). که چیرې انځور د انسان، حیوان، روح درلودونکي او غیر روح درلودونکي شیانو انځور وي، خالیگاه ډکوي، په سترگو لیدل کېږي، په لاسونو لمس او ښکاره شي او جلا بدن ولري د جسم لرونکې انځور په نوم کې شامل دی(الموسوعة الفقهیة الکویتیة ١٢/ ١٠٧).

**دویم ډول:** سطحه درلودنکې انځور: دې ډول انځور کې ټول د سطحې درلودنکي جسمونه شامل دي، که هغه د اوسني عصري ټکنالوژۍ په وسیله، لاسي انځور، په ټوکر کې جوړ شوې او یا په دیوالونو باندې رسم شوې وي شامل دي (حاشیة رد المحتار، لابن عابدین، ١/ ٦٤٧).

دریم ډول: ساه درلودونکې انځور: ساه درلودنکی انځور په دوه ډوله دی:

**لومړی ډول**: د بني آدم په ټول شکل او صورت سره ساه درلودونکی انځور.

**دویم ډول**: د غیر عقل لرونکې حیواناتو لکه: زمری، پړانگ، مرغان، درندگانو ساه درلودنکی انځور (الموسوعة الفقهیة الکویتیة، ١٢/ ٩٣).

څلورم ډول: بې ساه انځور: بې ساه انځور په درې ډوله دی.

**لومړی ډول:** د نباتاتو انځورونه لکه: د فصلونو، نباتاتو، میوه لرونکو او غیر میوه لرونکو ونو انځورونه (الموسوعة الفقهیة الکویتیه، ۱۲/ ۹۸).

**دویم ډول:** د مخلوقاتو انځورونه لکه: د غرونو، بحرونو، سیندونو، لمر، سپوږمۍ او د ټولو خوځنده او غیر خوځنده فلکونو انځورونه(حاشیة رد المحتار، لابن عابدین، ۱/ ۶۴۹).

**دریم ډول:** د بشر لخوا د جوړ شوو شیانو انځورونه: لکه: د کورونو، موټرو، الوتکو، کښتیو او داسې نورو شیانو انځورونه (الموسوعة الفقهیة الکویتیه، ۱۲/ ۹۷).

پنځم ډول: لاسي انځور: هغه انځور دی چې پدې کې لاس په مستقیمه توګه دخیل وي لکه د قلم، برس، پنسل او د ارې په واسطه سره ترسره شوي لاسي انځور په نامه یادیږي.(احکام التصویر في الشریعة الاسلامیة للشیخ عبدالرحمن عبدالخالق ص ۳۱).

**شپږم ډول:** اتوماتیک انځور: دا هغه هنر دی چې کیست(CD) او تخته د انځور په جوړولو کې ښکیل دي چې د رڼا سره عیار شوې دی (الموسوعة العربیة المیسرة ۱/ ۵۲۸)، دا ډول انځور د تېرو انځورونو په پرتله د ډېر استعمال وړ دی، ځکه ډېرې خلک له دې انځور نه ګټه اخلي او د ژوند په ډېرو برخو کې لکه: ښوونیز، نظامي، صنعتي او داسې نورو کې ورته ډېره اړتیا لېدل کېږي، دغه انځور لاندې مختلف ډولونه لري:

**لومړی ډول:** فوتوګرافیک انځور: دغه انځور اوسني وخت کې د کیمرې په واسطه اخیستل کېږي، بیا د ځراغونو او سیورې په لیږدولو سره ثبت، شبېه، صحنه او ځای پکې را ښکاره کېږي چې د فوتوګرافیک انځور په نوم سره یادیږي(تربیة الاولاد في الاسلام لعبدالله ناصح علوان، ص ۹۰۲).

**دویم ډول:** سینمایي انځور(سینمایي کیسټ انځور): دا هغه انځور دی چې د غږ سره یوځای په ټاکلي او معین وخت کې حرکت کوي او پېښو او واقعاتو ته شامل دی. دغه انځور چې په پرده باندې ښکاري د یو شي خیال دی حقیقت نه دی (التصویر الجنائي لسالم عبدالجبار، ص ۲۴۰). همدارنګه سینما ته أخیلیة له دې وجې نه ویل کیږي چې د شیانو خیالات وړاندې کوي او په پوره معنی حقیقت نه وي (الشریعة الاسلامیة والفنون،لاحمد مصطفی، ص ۶۸).

**دریم ډول: تلویزوني انځور**: دا هغه انځور دی چې د بریښنایي څپو په وسیله په یو وخت کې اواز او انځور دواړه نقلوي(الموسوعة العربیة المیسرة ۱/ ۵۴۴). نو تلویزون هغه دی چې بریښنایي څپو سره مخامخ کېږي، انځور راټولوي او بیا یې په منظم ډول د بشپړ ځانګړتیاوو سره د انځور په بڼه وړاندې کوي(الموسوعة المیسرة ۱/ ۵۴۴).

### دریم مطلب: د پوره فوتوګرافیک انځور حکم

په ۱۸۳۹ م کال کې فوتوګرافیک انځور د یو انګریز لخوا چې ولیم هنري فوکس نومېده کشف شوې دی. همدارنګه ویل شوي دي چې په مکمله توګه دا ډول انځور په ۱۷۲۷ م کال کې کشف او ۱۸۳۹ کال کې د خلکو ترمنځ مشهور شو(الموسوعة العربیة المیسرة ۱/ ۵۲۸ ).

دغه ډول انځور په ډېرو برخو کې کارېږي او خلکو ترمنځ ډېر مشهور دی، نو ځکه د دې انځور په اړه ليکنه اړينه او د شرعي حکم په اړه يې پوهاوی مهم دی. د زيات تشريح او توضيح په موخه د فوتوګراف د کليمې په دلايلو باندې په لنډه توګه رڼا اچوو: د الشريعة الاسلامية والفنون په کتاب کې راغلي چې د (الفوتوغرافيا) کليمه يوناني کلمه ده چې له دوو جملو څخه جوړه شوې ده چې يو يې (فوتوس) او بله يې (جرافو) ده چې معنی يې په ترتيب سره (رڼا) او (زه يې انځوروم) ده. (التصوير الشمسي لباولر، ص ۳)، همدارنګه ويل شوي دي چې په عربي ژبه کې يې معنی لمريز انځور دی(الشريعة الاسلامية والفنون لاحمد مصطفی، ص ٦٧). د فني اړخه يې معنی د انسان د شکل د رڼا تثبيتول دي چې دا ډول انځور د رسول صلی الله عليه وسلم، د صحابو کرامو، د فقهي مدارسو د شتون په زمانه کې موجود نه وو، په وروستنيو وختونو کې کشف شوې دی نو د مخکنيو علماؤ نظر او رايه پکې شتون نه لري؛ پدې اړه معاصرو علماؤ څرګندونې کړي دي او دغه ډول انځور د حکم په اړه د علماؤ څخه دوه قولونه رانقل شوي دي(الشريعة الاسلامية والفنون لاحمد مصطفی، ص ٦٧).

لومړی قول: فوتوګرافيک انځور لکه د لاسي انځور، مجسمې جوړول او هغه انځورونو چې په کاليو کې شتون لري د دوی په څېر حرام دی(فتاوی ورسائل لشيخ محمد بن ابراهيم ج ۱ ص ۱۸۳)؛ خو د اړتيا او د عامه مصلحت له وجې نه په ځينو حالاتو کې روا دی لکه: د پېژندنې کارت، پاسپورټ، دندې ترلاسه کولو، د مجرمانو د څارنې او داسې نور اړتياوو او مصلحتونو کې روا ګرځېدلی دی.(فتاوی اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء، ج ۱ ص ٤٦٠). پدې اړه د **شيخ محمد بن ابراهيم**(فتاوی و رسائل سماحة الشيخ محمد بن ابراهيم ج ۱ ص ۱۸۳- ۱۸۸)، **شيخ عبدالعزيز بن باز**(فتاوی اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء، ج ۱ ص ٤٥٨)، **شيخ محمد ناصر الدين الالباني**(آداب الزفاف في السنة المطهرة للالباني، ص ۱۰٤-۱۰٦)، هم دا نظر دی. همدارنګه دغه رايه د سعودي، هند او پاکستان علماؤ هم تاييد کړې ده(مجلة الدعوة الشهرية، ص ٤٩- ٥۱).

### د لومړي قول دليلونه

لومړی دليل: دغه انځور يو له هغو انځورونو څخه دی چې په لغت، عرف او شرعه کې ورته انځور ويل کېږي نو له همدې کبله د نورو انځورونو په څېر حرام دی(فتاوی اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء، ج ۱ ص ٤٦٧).

دوېم دليل: فوتوګرافيک انځور د لاسي انځور پرمختللی حالت دی، بناء د لاسي انځور په څېر دا هم حرام دی(فتاوی اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء، ص ۸).

درېم دليل: په تېرو امتونو کې د شرک د رامنځته کېدو اصلي لامل همدا انځورونه ول چې د نوح عليه السلام له قوم څخه رانيولې تر نن ورځ پورې دا سلسله دوام لري؛ ځکه ډېری خلک په ډېرو ځايونو کې همداسې انځورونو او مجسمو ته خاکساري او د درناوي لپاره سجدې کوي(الحلال والحرام في الاسلام للقرضاوي، ص ۱۱۳).

څلورم دليل: د مخلوقاتو جوړول د الله تعالی صفت دی، که څوک د الله تعالی سره د هغه په صفاتو کې ځان شريکوي په نبوي حديثونو کې داسې خلکو لپاره سخته ځورونه او ربړنه ذکر شوې ده لکه څنګه چې رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:(أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ يُضَاهُونَ بِخَلْقِ

اللَّهِ)( صحيح البخاري، گڼه: ۵۴۹۸). ژباړه: د قیامت په ورځ به سخت عذاب د هغه چا وي چا چې د الله د خلقت(جوړولو) سره مشابهت کړې وي. نو د فوتوگرافیک انځور د حرمت علت د الله تعالی سره په خلقت(جوړولو) کې مشابهت دی ځکه د لاسي انځور نه پدې ډول انځور کې مشابهت ډېر زیات لېدل کېږي(فتاوی و رسائل شیخ محمد بن ابراهیم، ج ۱ ص ۱۸۶).

پنځم دلیل: لاسي او فوتوگرافیک انځور خفیف حکم دا دی چې دا ډول انځورونه له متشابهاتو څخه دي؛ نو ځکه رسول صلی الله علیه وسلم د مشابهاتو په اړه داسې فرمایلي دي:(إِنَّ الْحَلَاَلَ بَيِّنٌ وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لاَ يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ فَمَنْ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ)( صحيح مسلم، گڼه: ۲۹۹۶). ژباړه: په تحقیق سره حلال او حرام ښکاره او واضح دي او د دوی په منځ کې ځینې متشابهات دي چې ډېر خلک پرې نه پوهیږي، نو که چا له دغه متشابهاتو ځان وساته په تحقیق خپل دین او عزت یې خوندي کړ، او که څوک په متشابهاتو کې واقع شو یعنې په حرامو کې واقع شو.

شپږم دلیل: د انځور ویستلو په وسائلو او الآتو کې تنوع د دې سبب نه شي گرځیدی چې د انځور په حکم کې فرق پیدا شي، نو د ضرورت او عامه معتبر مصلحت نه پرته د روح لرونکو مخلوقاتو انځور ویستل په عمومي ډول حرام دي(فتاوی اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء، ج ۱ ص ۴۶۰).

**دویم قول:** فوتوگرافیک انځور ویستل جائز او روا ده، چې د دغه قول په تائید باندې ډېرو علماؤ څرگندونې کړي دي لکه: شیخ محمد بن صالح ابن عثیمین، شیخ محمد نجیب مطیعي، شیخ محمد متولي الشعراوي، شیخ سید سابق رحمهم الله او داسې نور (فقه السنة ج ۲ ص ۵۵- ۵۶).

پدې قول کې هم علماء په دوه ډلې دي: ځینو یې انځور ویستلو ته په مطلق ډول جواز نه دی ورکړی بلکې ځینې شرایط یې ورته وضع کړي دي چې انځورونه باید د حرامو مرتبې ته ونه رسیږي لکه: غیر اخلاقي، د استهزاء په موخه، د ځینو مشرانو او رهبرانو د لویي او درناوي په موخه د هغوی انځورونه ویستل، او یا هغه انځورونه چې د کافرانو نښې پکې شتون ولري نو دا ډولونه حرام او هیڅ جواز نه لري( الشرح الممتع لابن عثیمین، ج ۲ ص ۲۰۰). ځینو نورو یې له قید او شرط پرته په مطلق ډول فوتوگرافیک انځور ته جواز ورکړی دی(فقه السنة ج ۲ ص ۵۶).

**د دویم قول دلیلونه:**

لومړی دلیل: فوتوگرافیک انځور د هغو انځورونو له ډلې څخه نه دی چې په نبوي نصوصو کې یې په اړه رټنه او ترې منعه راغلې وي. ځکه په فوتوگرافیک انځور کې د شکل کاپي، نقاشي او مجسمې جوړول نشته بلکې دا د الله تعالی لخوا چې کوم شکل جوړ شوې د هغه نقل او د هغه د خلقت(جوړولو) تفصیل دی. همدارنگه اصل په غیر تعبدي اعمالو کې اباحت دی ترڅو چې په اړه له شریعت څخه حرمت نه وي ثابت شوې(احکام التصویر في الشریعة الاسلامیة ص ۳۳).

دوېم دلیل: لمریز انځور د اباحت بل دلیل دا کیدی شي چې دغه انځور په ټوکر کې د ګلانو په قضیه قیاس کړی شي؛ ځکه چې په صریح نص کې د دې نه استثناء راغلې ده چې رسول الله فرمایلي دي:(إِلاَّ رَقْمًا فِي ثَوْبٍ)( صحيح البخاري، ګڼه:۵۵۰۱). ژباړه: مګر هغه ګلان چې په کالیو باندې جوړ شوي وي.
درېم دلیل: فوتوګرافیک انځور د هغه انځورونو سره مشابهت لري کوم چې په هینداره، اوبه او هره خوی سطحه باندې ښکاره کېږي، بناء مونږ نه شو ویلی چې کوم انځورونه چې هینداره، اوبو او خوی سطحه باندې ښکاري دا حرام دي(الشريعة الاسلامية والفنون لاحمد مصطفى، ص ۱۰۶).
څلورم دلیل: فوتوګرافیک انځور د انسان د ټولو اندامونو تمثیل نه کوي او جسد هم پکې نه وي؛ ځکه چې جسد د ټولو اندامونو نمایندګي کوي، کله چې شتون ونه لري نو روح هم شتون نه لري. او پدې سره پدې انځور کې د الله تعالی د خلقت سره مشابهت له منځه ځي(احكام التصوير في الفقه الاسلامي للحبش ص ۶۳).
پنځم دلیل: اصل په شیانو کې اباحت دی؛ ترڅو چې په اړه یې د حرمت دلیل نه وي راغلی(عبادة الاوثان للطيبي، ص ۲۱۴). ترجیح: وروسته له دې چې په ذکر شوې مسئله کې دواړه قولونه سره له دلیلونو ذکر شول، نو راجح پدې کې لومړی قول دی او هغه دا چې فوتوګرافیک انځور له ضرورت او عامه مصلحت پرته ناروا دی.

**د لومړي قول د ترجیح دلایل**

**لومړی:** د لومړي قول دلیلونه د صراحت، عموم او شمول له کبله قوي دي؛ ځکه چې دوی د انځور لفظ پخپل ظاهر باندې حمل کړې او ډېر تأویلونه او تفسیرونه یې پکې نه دي کړي. حال دا چې د دوېم قول ویونکو عقلي، ناسم او غیر منضبط دلایل ذکر کړي دي.
**دوېم:** دغه ډلې د دوېم قول دلایلو په وړاندې قوي مناقشې وړاندې کړي دي چې د دغه مناقشاتو ردول نا ممکن برېښي، چې دا د دوېم قول په ضعف باندې دلالت کوي. خو د موضوع د اوږدوالي د مخنیوي په خاطر د مناقشاتو له ذکر کولو څخه ډډه کوو.
**درېم**: که څه هم فوتوګرافیک انځور کې د الله تعالی له خلقت سره مشابهت کم دی او انځورګر هم پدې باندې د لویي احساس نه کوي، ځکه که څوک پخپل لاس باندې انځور وباسي نو ځان ورته لوی ښکاري او داسې احساس کوي چې ده پخپلو لاسونو باندې د یو شي د ایجاد او اختراع توانایي لري، نو جوته خبره چې د دې انځور د حرمت سبب یواځې همدا نه دی، ډېر سببونه نور هم شتون لري لکه: هغه ځای چې انځورونه پکې شتون لري د ملائکو نه ورتګ، د هغو خلکو سره مشابهت څوک چې د انځورونو عبادت کوي او همدارنګه انځورونه د الله تعالی سره د شریک نیولو یوه وسیله ده.
نو بناء دغه ډول انځور هم د حرام کړې شوو انځورونو په ډله کې راځي؛ ځکه د حرمت دلائل یې عام او د فوتوګرافیک او لاسي انځورونو علتونه شریک دي نو د ضرورت او عامه شرعي معتبر مصلحت پرته انځور ویستل روا نه دي.

**ځلورم:** د احتیاط غوښتنه دا ده چې هر ډول انځور او په ځانګړي ډول د فوتوګرافیک انځور څخه ځان وساتل شي ترڅو د ګناه څخه انسان لېرې پاتې شي، او په حرمت سره یې د شر، فساد او ګناه څخه مخنیوی کېږي، خو ضرروت او عامه شرعي معتبر مصلحت له دې څخه مستثنی دی.

**ځلورم مطلب:** د نېمه او کوچني فوتوګرافیک انځورونه جوړول

أ- د نېمه فوتوګرافیک انځور د جوړولو حکم

ب- د پوره کوچني فوتوګرافیک انځور د جوړولو حکم

## أ- د نېمه فوتوګرافیک انځور د جوړولو حکم

له دې څخه هغه انځور مراد دی کوم چې د انسان یا حیوان سر، یا پورتنی نېمایي برخه، یا سر او غاړه، یا سر او د سینې یوه برخه پکې شامله وي. دلته د هغه نیمه انځورونو په اړه بحث کوو چې د ضرورت او شرعي مصلحت څخه پرته وویستل شي؛ ځکه د ضرورت او شرعي مصلحت په وخت کې د ټول بدن مکمل انځور وېستل او جوړول هم روا دي(الحلال والحرام فی الاسلام للقرضاوي، ص ۱۱۲)، همدارنګه هغه انځورونه هم زموږ په بحث کې شامل نه دي کوم چې سر ونه لري یا یې سر قطعه شوې وي؛ ځکه د داسې انځورونو جوړول او کارول پروا نه کوي(المغني لابن قدامة ۷/ ۷).

## د نېمه فوتوګرافیک انځور په اړه دوه قولونه دي:

**لومړی قول:** شیخ محمد بن ابراهیم او شیخ عبدالعزیز بن باز پدې نظر دي چې د پوره او نېمه فوتوګرافیک انځور په حرمت کې هېڅ توپیر نشته، د ضرورت او مصحلت پرته داوړه ډولونه حرام دي. ځکه چې أصل مقصود سر، مخ او غاړه ده، نور بدن خو په کالیو باندې پټېږي او د ژوندي موجود د هویت نمایندګي همدا غړي کوي. همدارنګه هغه انځور چې له سر څخه پرته یې نور اندامونه قطعه شوي وي پدې باندې دلالت نه کوي چې دغه ډول انځور دې روا کړی شي او یا دې داسې ځای ته ملائکې داخلې نه شي، ځکه رسول صلی الله علیه وسلم د هر ډول انځور په له منځه وړولو باندې امر کړی او انځور وېستل یې غندلې دي. او دا ډول هم په انځورونو کې شامل دی. نو دا ښکاره خبره ده چې د سر او غاړې انځور په حرمت او منعه کې داخل دي؛ ځکه په صحیحو حدیثونو باندې دا ثابته ده او عمومي حرمت څخه یې هېڅوک پرته له شارع نه استثناء نه شي کولای(الجواب المفید في حکم التصویر لابن باز، ص ۱۷- ۱۸). نو څرګنده شوه چې سر او مخ شریف اندامونه د ښکلا ټولګه ده، پدې سره د انسانانو، حیواناتو او جماداتو ترمنځ توپیر کیدای شي او د سر په پرې کولو سره یې د انسان مشابهت د حیوان او جماداتو سره راځي نو ځکه جبریل علیه السلام رسول صلی الله علیه وسلم ته ویلي دي:(فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِی فِي الْبَيْتِ يُقْطَعُ فَيَصِيرُ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ)( سنن ابي داود، ګڼه: ۴۱۶۰). ژباړه: امر وکړه په هر هغه انځور چې کور کې وي چې سر یې قطعه کړي تر څو د ونې شکل ترې جوړ شي. دغه ډله علماء چې د پوره انځور د حرمت لپاره دلائل ذکر کړي دي هماغه دلائل یې د نېمه انځور په اړه هم ذکر کوي او دواړه ډول انځورونه حرام بولي.

دوېم قول: هغه علماء چې د فوتوګرافیک پوره انځور د روا والي لپاره دلائل ذکر کړي دي هماغه دلائل يې د نېمه فوتوګرافیک انځور د روا والي لپاره هم ذکر کوي، او د دوی په نزد دواړه ډوله فوتوګرافیک انځورونه روا دي، د انځور وېستلو په اړه چې کوم وعیدونه راغلي دي هغه يې په لاسي پوره انځور باندې حمل کړي دي.

ترجیح: پدې مسئله کې لومړی قول چې د فوتوګرافیک نېمه انځور په حرمت باندې دلالت کوي راجح دی (کشاف القناع للبهوتي، ۱/ ۲۸۰).

ب- د پوره کوچني فوتوګرافیک انځور پېژندنه

## د پوره کوچني فوتوګرافیک انځور څخه کوم انځور مراد دی؟

۱- هغه انځور چې له ډېر او پوره دقت پرته ونه پېژندل شي.

۲- هغه انځور چې په ځمکه باندې وي او کتونکي ته يې د اندامونو توپیر سخت وي.

۳- هغه انځور چې د لېرې نه ونه پېژندل شي.

۴- هغه انځور چې د کوچني مرغه( چڼ چڼه یا ماشي) څخه هم کوچنی وي.

په پورته قولونو کې لومړی قول راجح دی.

د پوره کوچني فوتوګرافیک انځور د جوړولو حکم: ځینې خلک دا فکر کوي چې کوچنی انځور چې له ډېر دقت پرته ونه پېژندل شي حرام نه دی، خو پخواني او معاصر علماء د کوچني او لوی انځور د حکم په تړاو هېڅ فرق نه کوي او په حرمت يې قائل دي.

**پینځم مطلب**: د سینما پر پرده د خوځنده انځور د جوړولو حکم

پدې مسئله کې د معاصرو علماؤ څخه دوه قولونه رانقل شوي دي:

**لومړی قول:** شیخ حمود بن عبدالله التویجري، شیخ عبدالله بن محمد بن حمید، او د سعودي عربستان د شرعي کمېټې نظر دا دی چې د سینمایي انځور جوړول او استعمالول حرام دي.(اعلان النکیر للتویجري، ص ۹۰). خو د دعوت او علم د خپرولو په موخه يې استعمال روا دی؛ ځکه پدې کې مصلحت په شر باندې غالب دی(بهجة الناظرین فیما یصلح الدنیا والدین للشیخ عبدالله بن جارالله، ص ۴۱۵).

## د لومړي قول دلیلونه

لومړی دلیل: د داسې انځورونو په جوړولو باندې رضایت او د دې استعمالول د رسول صلی الله علیه وسلم له شریعت سره مخالفت او د نصاراو او مشرکینو سره موافقت او مشابهت دی، حدیث کې راغلي دي:(مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ)( سنن ابي داود، ګڼه: ۴۰۳۳). ژباړه: چا چې د کوم قوم سره مشابهت وکړ نو هغه هم د هغه قوم له ډلې څخه شو.

دوېم دلیل: د سینمایي انځور په روا والي باندې حکم د رسول صلی الله علیه وسلم د احادیثو ردول دي، او هر هغه قول چې د نبوي حدیثونو سره ټکر کې وي نو هغه باطل دی(فتاوی اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء، ۱/ ۴۵۸).

دریم دلیل: د سینمایي انځورونو د خپرېدلو په ځای کې ګډون او د هغې په جوړېدلو باندې رضایت د انځورګر سره په ګناه کې په شراکت دلالت کوي او د نبوي احادیثو په وعید کې شاملېږي(القاموس المحیط للفیروزآبادي، ص ٥٤٨).

څلورم دلیل: سینما د خیالي جادو یو ډول دی، ځکه په خیالي جادو کې چې څه راوړل کیږي هغه ټول په سینمایي انځور کې هم وړاندې کیږي، لکه څنګه چې جادو او د هغوی په مجلسونو کې ګډون کول یو ناروا عمل دی. همدارنګه سینمایي انځورونه او په سینمایي مجلسونو کې ګډون او پکې کار کول هم ناروا دي، خو که چېرې نیت پکې د منکر له منځه وړل وي بیا پروا نه کوي، د دې نیت نه پرته په ګناه باندې رضایت دی او ګناه باندې راضي کس د ګناه کوونکي په څېر دی(اعلان النکیر للتویجري، ص ۹۱).

دویم قول: سینمایي خوځنده انځور هیڅ فزیکي بڼه نه لري لکه ویډیو او داسې نور، نو پدې اساس دا د انځور په حرمت کې شامل نه دي. دا قول شیخ محمد بن صالح العثیمین او محمد توفیق رمضان البوطي څخه نقل شوې دی(التصویر بین حاجة العصر و ضوابط الشریعة للبوطي، ص ۱٤٦).

**د دویم قول دلیلونه**

**دلیل یې دا دی:** دا ډول انځورونه حقیقي انځورونه نه ګڼل کېږي؛ ځکه دا یو خیالي شی دی، خارجي او فزیکي بڼه نه لري، کله چې لیدونکي دغه سکرین بند کړي نو سینما پرده سپینه پاتې کېږي په پوره معنی سره د شېشې د انځور بڼه لري، او د سینما په پرده باندې دا انځور تش د سېوري حیثیت لري او د حقیقي او فزیکي انځور په څېر نه وي.

**د دواړو قولونو ترمنځ مناقشه**

لومړي قول څښتنانو د دویم قول له دلیل څخه لاندې ځوابونه ور کړي دي:

لومړی ځواب: که څه هم د سینما پر پرده باندې وړاندکېدونکي انځورنه د کیسټ(CD) په داخل کې په سترګو نه ښکاري؛ خو کله چې د سینما پر پرده ښکاره شي نو د فوتوګرافیک انځور بڼه اوچته او لویه وي؛ نو لکه څنګه چې فوتوګرافیک انځور جوړول حرام دي دا انځور هم په طریقه اولی سره حرام دی.

دویم ځواب: د سینما پر پرده خوځنده انځور بعینه فوتوګرافیک انځور دی، ځکه دا د کیسټ(CD) په داخل کې ثبت وي او د مخصوص ماشین پواسطه ورته حرکت ورکول کېږي نو دا په حقیقت کې هماغه فوتوګرافیک انځور دی او د الله تعالی د خلقت(جوړولو) سره ډېر مشابهت لري، ځکه دا انځور هم اواز او هم حرکت لري.

دریم ځواب: د سینما په پرده باندې د خوځنده انځور قیاس د شېشې د انځور سره، قیاس مع الفارق دی، ځکه د سینما په پرده باندې چې کوم انځور وړاندې کېږي د اصل شخص په نشتون کې هم ښکاري. خو د شېشې انځور د شخص په نه موجودیت کې نه ښکاري او کله چې د شېشې له مخې نه شخص لرې شي انځور یې هم ورکېږي.

**ترجيح:** له دواړو قولونو د دلايلو له څېړلو وروسته دا جوتېږي چې اول قول راجح دی او ترجيح دلايل يې په لاندې توګه ذکر کوو:

۱-د لومړي قول دلايل زيات، قوي او د حرمت په اړه ذکر شوې دلايل يې صريح دي، انځور حرمت په احاديثو کې په مطلق ډول راغلی د ضرورت او راجح مصلحت پرته يې جوړول او استعمال منع شوې.

۲- د دوېم قول دلايل ضعيف او قياسونه يې مع الفارق دي.

۳- په حقيقت کې د فوتوګرافيک انځور او سينما په پرده باندې ښکاره کيدونکې انځور ترمنځ کوم توپير نه ليدل کيږي، د سينما په پرده باندې چې کوم انځورونه ښکاريږي دا د فوتوګرافيک انځورونو مجموعه ده او که چېرته د سينما په پرده باندې انځور له حرکت څخه وغورځول شي بعينه فوتوګرافيک انځور دی او فوتوګرافيک انځور په اسلامي شريعت کې حرام دی. د راجح قول پر بناء سينمايي انځورنو جوړول او استعمالول يو ناروا عمل دی مګر که کله راجح مصلحت شتون درلود او يا ورته اړين ضرورت پيدا شو لکه: د سينما په پرده باندې ديني درسونه او علمي کنفراسونو وړاندې کيدل، تباه کوونکو مرضونو په اړه خبرتياوې او داسې نور چې د مسلمانانو سره پکې مرسته، تعاون او کومک کول وي بيا يې کتل او خپرول روا دي (احكام التصوير في الشريعة الاسلامية ص ۵۰).

**پايليزه**

د دې مقالې له پايلو څخه جوتېږي چې:

۱- هر هغه انځور چې اوږدوالی، سور او ژوروالی ولري او يوه تشه ډکه کړي چې ليدل او لمس يې هم کيدای شي يواځې روح پکې شتون ونه لري د مجسم انځور په نوم يادېږي.

۲- په ديوال او لوحو په قلم او يا بل څه د شيانو او اشخاصو د شکلونو نقاشي کول د لاسي انځور څخه عبارت دی.

۳-اتوماتيک انځور چې فوتوګرافيک، سينمايي او تلويزوني انځورونو ته شامل دي د کيمرې او برېښنايي څپو پواسطه اخيستل کېږي او خلکو ته ښکاره کېږي.

۴- فوتوګرافيک انځور په ۱۸۳۹ م کې د لومړي ځل لپاره وليم هنري فوکس لخوا کشف شوې دی.

۵- فوتوګرافيک پوره انځور د پوره بحث او مناقشې څخه وروسته د راجح قول مطابق له ضرورت او عامه مصلحت پرته ناروا دی.

٦- د نيمه فوتوګرافيک او پوره کوچني فوتوګرافيک انځور حکم هم د پوره فوتوګرافيک انځور په څېر دی چې له ضرورت او عامه مصلحت پرته ناروا دی.

وړانديزونه:

۱- ټولو مسلمانانو ورونو ته مو دا وړانديز دی چې د سنتو پيروي وکړي او له مخالفت يې ځانونه وژغوري.

۲- ټولو مسلمانانو ورونو ته مو دا وړاندیز دی چې له ضروت او عامه مصلحت پرته دې انځور اخیستلو څخه ډډه وکړي.
۳- د شرعیاتو پوهنځي او اسلامي ثقافت علمي کادر غړو ته مو دا وړاندیز دی چې د فوتوگرافیک انځور پرته د نورو انځورونو په اړه د علماؤ او پوهانو نظرونه د علمي مقالې په څېر راټول کړي ترڅو ترې ټولنه استفاده وکړي.
۴- هغو مسلمانانو ته مې وړاندیز دی چې انځورونه اخلي په اړه یې پوره پوهه او فقهي تحلیل ولولي او ځان پرې پوهه کړي.

## سرچينې


ابن باز، شیخ عبدالعزیز بن باز، الجواب المفید في أحکام التصویر، مطبوعات رئاسة العامة بالریاض، ۱۴۰۶ هـ.
ابن عابدین، محمد أمین عابدین بن عابدین، حاشیة رد المحتار، ط ۲، دار الفکر، بیروت، لبنان، ۱۳۸۶ هـ.
ابن عثیمین، شیخ محمد بن صالح العثیمین، الشرح الممتع علی زاد المستقنع، ط ۲، مؤسسة أسام للنشر، ۱۴۱۴
ابن فارس، ابي الحسين أحمد بن فارس بن زکریا، معجم مقاییس اللغة، ط ۱، دار الجیل، بیروت، ۱۴۱۱ هـ.
ابن قدامة، ابو محمد عبدالله بن أحمد بن محمد بن قدامة المقدسي، المغني، مطبوعات رئاسة ادارة البحوث العلمیة والافتاء، ۱۴۰۱ هـ.
ابن منظور، جمال الدین محمد بن مکرم بن منظور، لسان العرب، ط ۳، دار صادر بیروت، ۱۴۱۴ هـ.
احمد مصطفی علي القضاة، الشریعة الاسلامیة والفنون، ط ۱، دار الجیل، بیروت، لبنان. ۱۹۸۸ م.
الباني، محمد ناصر الدین الالباني، آداب الزفاف في السنة المطهرة، ط ۷، المکتب الاسلامي، ۱۴۰۴
باولر، التصویر الشمسي،(ب، ط)، ادارة الثقافة العامة بمصر. ۱۹۵٦ م.
بخاري، ابو عبدالله محمد بن اسماعیل البخاري، صحیح البخاري، ط ۱ ، دار طوق النجاة، ۱۴۲۲ هـ.
بوطي، دکتور محمد سعید رمضان البوطي، التصویر بین حاجة العصر وضوابط الشریعة، ط ۲، مکتبة دار الفارابي، ۱۴۲۷ هـ.
بهوتي، شیخ علامه منصور بن یونس البهوتي، کشاف القناع عن متن الاقناع، دار الفکر للطباعة والنشر والتوزیع، ۱۴۰۲ هـ.
تویجري، شیخ حمود بن عبدالله التویجري، اعلان النکیر علی المفتونین بالتصویر،(ب،ط) دار الهجرة للطباعة والنشر، ۲۰۱۵ م.
جار الله، شیخ عبدالله بن جار الله، بهجة الناظرین فیما یصلح الدنیا والدین، ط ۱، دار ابن خزیمة، ریاض، ۱۴۱۲
جرجاني، علي بن محمد الشریف الجرجاني، التعریفات، ط ۲، دار الکتاب العربي، بیروت، لبنان، ۱۴۱۳ هـ.
حبش، شیخ محمد حبش، أحکام التصویر في الفقه الاسلامي، ط ۱، دار الخیر للطباعة والنشر، ۱۴۰۷ هـ.
د. محمد رواس قلعه جي، و د. حامد صادق قیني، معجم لغة الفقهاء، ط ۲، مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزیع، ۱۴۱۴.
راغب اصفهاني، ابي القاسم الحسین بن محمد الراغب الاصفهاني، مفردات الفاظ القران، ط ۱، دار القلم دمشق، ۱۴۱۲ هـ.

سالم عبدالجبار، التصوير الجنائي، ط ۱، مطبعة شفيق. ۱۹۷۰ م.
سويلم، دكتور محمد نبهان سويلم، التصوير والحياة، عالم المعرفة، ۱۴۰۴ هـ.
سيد سابق، فقه السنة، ط ۲، دار الفتح للاعلام العربي، ۱۴۱۱ هـ.
شيخ محمد بن ابراهيم، فتاوى و رسائل، جمع و ترتيب: محمد بن عبدالرحمن بن قاسم، ط ۱، ۱۳۹۹
طيبي، عكاشة عبدالمنان الطيبي، عبادة الاوثان، مكتبة التراث الاسلامي القاهرة.(بدون تاريخ).
عبدالرحمن بن عبدالخالق اليوسف، أحكام التصوير في الشريعة الاسلامية.(ب، ط)، ۱۴۱۵ هـ.
علوان، عبدالله ناصح علوان، تربية الاولاد في الاسلام، دار السلام للطباعة والنشر والتوزيع، القاهرة. ۱۴۱۲ هـ.
فتاوى اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء، جمع وترتيب: احمد بن عبدالرزاق الدويش، ادارة البحوث العلمية والافتاء، رياض، ط ۱، ۱۴۱۱ هـ.
فيروز آبادي، مجدالدين محمد يعقوب الفيروز آبادي، القاموس المحيط، ط ۲، مؤسسة الرسالة، بيروت، ۱۹۷۰
قرضاوي، دوكتور يوسف القرضاوي، الحلال والحرام في الاسلام، ط ۱۴، المكتب الاسلامي بيروت، ۱۴۰۵ هـ.
مجلة الدعوة الشهرية الصادرة بمركز الدعوة والارشاد، لاهور، پاكستان.
الموسوعة العربية الميسرة، دار النهضة للطبع والنشر، بيروت، لبنان، ۱۴۰۶ هـ.
وزارة الاوقاف والشؤن الاسلامية الكويتيه، الموسوعة الفقهيه الكويتيه، ط ۲، طباعة ذات السلاسل، ۱۴۰۸ هـ.

# حكم التصوير الفوتوغرافى في الفقه الاسلامي

**ابراهيم نوري[۱]، احمد غيور يوسفزى[۲]**

[۱،۲]قسم الثقافة الاسلامية، كلية التعليم والتربية، جامعة لوجر.

البريد الالكترونيكي: Ibrahimnoori571@gmail.com

**المستخلص**

يدور هذا الموضوع حول تعريف الصورة الفوتوغرافية، أنواعها وأحكامها في الشريعة الاسلامية، وقد جمعت في بحثي أقوال الفقهاء و المعاصرين و بينتها بأوضح بيان، والهدف من البحث التعرف على الصورة الفوتوغرافيه، حكم الفقهاء فيه، وبيان انواع الصورة الفوتوغرافيه بأوضح بيان، تتبعت المنهج الاستقرائي في البحث، والنتائج اللازمة للبحث هي كالتالي: الصورة التي لها طول، و عرض و عمق و يملأ جوفا ويمكن رؤيتها و لمسها و لا يوجد فيه مجرد الروح، يسمى هذا بالتصوير المجسم، و نقش الأشياء والأشخاص والأشكال على الجدران واللوحات بالقلم وغيره يسمى بالصورة اليدويه. الصورة الأوتوماتيكية تشمل الصورة الفوتوغرافيه، والصورة السينمائيه و الصورة المتلفزة التي يتم التقاطها بواسطة الكاميرا أو الفلاش الإلكتروني التي يتم عرضها للجمهور، و حكم الصورة الفوتوغرافيه الكامل، والنصفيه والمصغرة بعد البحث والمناقشة مطابقا للقول الراجح حرام إلا للضرورة أو المصلحة العامة.

**الكلمات المفتاحية**: الفقه الاسلامي، الصور، الفوتوغرافيه.